محمد نقيب تره خيل بلجيم، ۲۰۱۱/۱۱/۲۱

# دعوت د افغانستان معاصر تاريخ دی

سرجان سيلي ويلئ: تر ډېرې زماني پورې تاريخ يوازې د تير مهال سياست ګڼل کيده. دهغه دانظر بيخي پر ځاې ده. نن که هر څوک د تير تاريخ پاڼې اړه وي. نو د پخوانيو باچاهانو، او امپراتورانو د لښکر کښيو، فتوحاتو، برياوو ،د ځمکو د لاندې کولو، د غنايمو د نيولو، د شاهانه مجلسونو د جوړولو او د خلعتونو د وېشلو د ستاينو او صفتونو ګواهي کوې. ولس چې د پېښو او حوادثو د زغملو او دفحه کولو اصلي محور ده. موريخينو د درباري موقف د ساتلو او د لوړو تنخواوو په بدل کې بيخې له پامه غورځولی دی. تاريخ ليکونکي تربل هر چا پدې حقيقت ښه پوهيږي چې جګړه انساني او اقتصادي انرژي خوري.او د جګړې د سوند دا دواړه توکي د ولس له وجود نه تياريږي. په لښکرو کې د درباريانو، شتمنو او مخورو کسانو له بچو، پرته ټول د ولس زامن په کې ول، او مالي لګښت يې له مالدارو، کرونده ګرو، سوداګرو او کسبګرو څخه برابرېده. هغوهمدارنګه د خلکو د ټولنيز ژوند په ستونزو او ربړو هم غټ برغولې ايښي. په ښارونو او بازارونو کې دګڼه ګوڼې د خوړو، جامو او لوښو د پريماني په اړه معلومات راکړي خود کليو، باندو او پرګنو د ژوند په هکله چوب پاتې شوي. د دربارميرزايانو د تاريخي پېښو او حوادثو يادونې کړي خو په لاملونو به يې سترګې ځکه پټې اچولي چې د واکمنو د غلطيو، بې پروائيو او ناتوانيو له وجې رامينځته کيدی، د رسوا کيددو په صورت کې حتماً د هغوی قهر او غضب پارېده. بيا موقف او تنخوا يې دواړه له لاسه وتې. په لوېديځ کې تر جمهوري حکمتونو وروسته په تاريخ ليکنه کې بدلون راغي. د واکمنو د کارنامو د غټه ولو لويولو او ستايلو پرځاي د ولس د ټولنيز ژوند د انځورنې هنداره شوه، ليکن لا تر اوسه په درې يمې نړۍ کې زموږ د هيواد په شمول تاريخ د زورورو، شتمنو او واکمنو د ستاينو او صفتونو پاڼه ده.

فرانسوې مورخ مشلی وائی تاريخ د سترو سړيو د کارنامو پاڼه نه ده. بلکې تاريخ د عامو انسانانو، ولسونو او مظلو خلکو دی. عام خلک زياتره تر خپلو مشرانو غوره دي. ما چې پدې هکله ځومره ژور فکر وکړ هغومره په ډاډ سره دې نتيجې ته ورسيدم، هر څه چې ښه او غوره دي هغه تر ځمکې لاندې پټ دي او مثبت رول د عامو خلکو دی. د دعوت مدبر موسس طارق بزګر د ذهن او کړو په لحاظ فرانسوي عالم ته ورته مورخ دی. هغه فطرتاً په تانده ځوانۍ کې دا حقيقت درک کړي وه چې تاريخ د پرګنو د هڅو، لالهنديو، سرتېرېو کار نامه ده. هغه دخپلې ټولنې د پېښو او حوادث دثبتولو په موخه د کډوالۍ په ژوند کې، په يوازې ځان او بې د مالي پشتوانې د دعوت تاريخې رسنۍ جوړه کړه. په ټولنه کې دپېښو، حوادثو، د انګېزو او له هغې نه د خلکو د اغيزمنيدو د معلو ماتو د راټولولو لپاره يې په ولس د زړه سواندو روڼ اندو کسانو څرک په هيواد دننه او بهر کې ولګوه.

د جرمن فيلسوف هېګل په ان تاريخ د بدلون نوم دی. بزګرصيب په افغاني تاريخ ليکنه کې د بدلون په خاطر وار دمخه ليکوالانو ته ويل چې دعوت دعوامو تاريخ ده نه دحاکما نو. هاغه وخت چې دعوت زرغون شو هيواد يې د شورويانو تر اشغال لاندې وه. درد،غم، وهل، بندي کول، چور تالان، مرګ او ژوبله د حکومت او بهرني پوځ لخوا عوامو ته ورځني خلعتونه وه. زاړه حکومتونه لاړل او نوي راغلل خوزړه کړنه تر ننه تانده ده. د دعوت ليکوالو اورېدل، خبرېدل او پرې خپله تيرېدل چې قوای دوست د ځمکې او هوا نه پر مظلومو خلکو بمونه اوروي، څوک چې د حکومت د پالسيو اصلاح غواړې د څرخي پله په جېل کې يی يا نوکان ابستل کېږي يا په دار ځړيږي. په پېښور کې يې ليدل چې د تنظيمونو د رئيسانو او قومندانانو وېښته نه خيانتيږې خو عزيز رحمان الفت او مجروح صيېب دملې اند په جرم ترور ريږي. جهادي قومندانان يې ښارل، تعقيبول او ليدل يی چې په يوه سنګر کې له روسې پوځيانو سره چای څښي خو دبل تنظيم پر مجاهدينو ډزې کوي.

دعوت د ۱۳۷۲وم کال تاريخي پيښه خوندي کړي. د هغه لاملونه يی موندلي چې څنګه؟ ولې؟ کوموکسانو د څه موخو لپاره او دکومو هېوادو په مرسته د نړۍ والې ټولنې د سولې پلان دړې وړې کړ. د افغان ليکوالانو ترڅنګ امريکايې نامتو ژورنالست ريچارډسن هم دپېښو او حوادثو د کره معلوماتو د راټولو لپاره درې پلاه افغانستان ته سفرونه کړی او ۶۰۰ سو مخيز پنډ کتاب يې(د افغانستان پلټنه) پرې طبعه کړي د دعوت پياوړو قلموالو تاريخ ته رسوا کړی چې سکتارستي مفکوره څنګه د اسلام د څادر لاندې ستره شوی وه. لوبغاړي يې په څه ډول سياستوال شول؟ د چا په مالي او پوځي مرستو يی سياسي واک خپل کړ؟ د دعوت په يوه ګڼه کې راغلي د نظامې خاد رئيس مشتاق پنجشيري چې په ناف کش مشهور وه د يوه کلينر پښتون نو يی په داړو ترې وبستی وه. ورله ويلي ئې وه (تو ګلبديني ستي) سکتارستو د فرد نوم د ملت نوم ګرځولی وه. د حقوقو پياوړي استاد او ملي شخصيت روستار ترکي په ۲۰۰۱وم کال کې د امريکا يې برغل پېښه پوره څېړه لې. هغه وايې دېته د ترهګرۍ پر ضد د جګړې نوم ورکول د ولسونو خطا ابستل دي. دا برغل دکپيټالستانو د شخصي منفعتو په اساس شوی، ترڅو په سيمه کې د ډېره کي قوم (پښتون) فزيکي زور او طاقت مړ کړې


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

چې بیا په مصؤن ډول سره د منطقي ذخاېر وباسي. پدې هکله ورته معلومات د افغانستان ریښتیا پلټنې کتاب کې ښاغلي ریچار ډسن هم ورکړې. دعوت د ژبنې، کولتورې، اقتصادي اوهنري پیبنو تاریخ هم دي. دکارمل په وخت کې چې ښاروالي په شوراي اجرائیوي باندي واړوه ل شوه، دعوت وایی چې علت یې د پښتو پسوند (والئ) وه، د اقتصادي پړسوب له وجې۸۰۰۰۰ افغانۍ په یو ډالر بدلې دي. د لوږې لامله میندو او پلارو اولادونه پدې خاطر په سړکو خوشې کړل چې د دوي تر مخ ونه مرې په کلتوري اثارو چې موزیمونه او ارشیفونه غني وه ۷۰سلنه چور شوه.
د ولس، هیواد او اسلام پالنې تېتر پخواهم ډېر پیاوړو او وتلو کسانو وهلې وه او نن سبا خو دا ښکلې او رنګین شعار د شخصي منفعتو کلې ګرځیدلې. ډېرو پوهانو، ادیبانو عالمانو په کورد ننه او بهر کې رسنۍ او ټولنې جوړې کړې، دبزګرصیب نه یی ډېرې مضبوطې او ټینګې ژمنې ان په لیکنې بڼه ولس سره کړي لیکن ځینو ته چې پر سبا یې د شخصي ګټو څرک ولګید. وعدې یې داسې ګړوت کړې لکه ماشوم چې له ورخطایې شربنې تیره کړي او د یوشمیر نورو چې لا تر اوسه واکمنو یې خولې ندي خوږې کړي، ژبې یې له عوامو سره او زړو نه یې له حاکمانو سره دي. خودعوت پدې ۲۳ کلن عمرکې خپلې ژمنې ته د لومړۍ ورځې په شان همهغسې هوډ من دي.
مضمون به پدې خبره وتړم ړومبې به ځان وښیم بیا تاسې. راځې چې له مفته احسان له ډېر ستاینو تېر شو د عوت له چاپي رسنۍ سره په کال کې د خپل وس په اندزه مالي مرسته وکړو او په بوې شخصي ملیمستیا کې د اوبو دلګښت دمصرف بیه د افغانستان په نړۍ وال تلویزون ولورؤ.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ